مرادزئ ۲۰۰۹/۰۹/۰۹م

احمدشا مسعود د ملي ګټو په تله کې

د هېواد ملي ګټو او ارزښتونو سره چلندتوګه او هغو ته وفاداري ؛ د شخصيتونو ، سياستوالو ، مشرانو او همدارنګه د سياسي ډلو ، ګوندونو او غورځنګونو د بېلا بېلو ادعاوو د سپيناوۍ يوازينی محک ګڼل کيږي . ملي ګټو او ارزښتونو سره له چلندتوګي پرته ، موږ بل داسي معيار چې د وګړو او ډلو بېلا بېلي دعوې پرې پرتله کړو، نلرو .
ډېر ځله کېدی شي يو څوک او يا سياسي ډله تر پيچلو او تاوشويو ماسکونو لاندې ، هېواد ته په سربښندني او ملتپالني خپله سينه وډبوي ، خو په پای کې د هېواد ملي ګټو پر وړاندې يوازې عمل او پراتيک دی چې د داسي شخصيتونو او ډلو ريښتيني څېره ولس ته ښکاره کوي .
د هېواد د اساسي قانون په لويه جرګه کې ، د ګوتو په شمير يو څواستازو چې د هغو زياته برخه هم د هېواد له شمال څخه وو ، زور وواهه چې د لويې جرګې د تصويب شوې اجندا پرته ، مسعود ته د ملي اتلولۍ رتبه وګټي خو بريالي نه شول . دوی په جرګه کې حتی په دې هم بريالي نه شول چې دا خبره په اجندا کې ځای کړي او دا ملي ضد هڅه يې پټه په سينو کې ځان سره کورونو ته يووړه .
بلاخره دولتمشر کرزی چې واکمني يې د بېځايه مصلحتونو او زيانمنو سازشونو بېلګه ده ، د افغان ملت د ملي ګټو سره په ټکر او د لويې جرګې د روحي پرخلاف ، د يوه فرمان په ترڅ کې مسعود ته د هېواد د وياړنې ترټولو دغه لوړه درجه وبخښله او نظارشورا ته يې هغه څه چې د لويې جرګې له لارې يې ترګوتو نه شوه کړای ، پخپل فرمان سره وړيا په لاس کې ورکړل !
اوس هم مسعود ته دغه درنښت افغان ملت نه دی ورکړې او د افغانانو په زړه او نيت ، هغه د يوه ملي غدار پرته بل کوم وړتوب نلري !
د هغه ملت په حال ژړا پکار ده چې يو څوک يې ملت سره غداري کوي او له هېواد سره په خيانت وياړي او بل يې بيا داسي غدارانو ته د ملت له جيبه د وياړني درجې وربخښي !
د مسعود ريښتيني څېره چې پلويان يې د افغانستان د جهاد (چې د ډېرو په اند هغه جهاد نه بلکې لوی فساد و) يوازينی ټيکدار بولي او ځانونه هم د شوروی پر وړاندې ريښتيني مجاهدين بولي **د بروس ريچارډسن** په څرګندونو کې داسي موندلای شو :
۱۹۹۶ کال کې بروس ريچارډسن « افغانستان د شوروي د ډاروونکي واک پای ته رسوونکی » نومي کتاب کې د شاملوف روسيی سرتيري له خولې ليکي « زما نوم ايوان شاملوف دی . زه په ۱۹۸۷ کې افغانستان ته لاړم او د روستۍ قطعې سره چې په ۱۹۸۹ کې رخصت شوه ، ما هم ترخيص ترلاسه کړ . ..... له افغانستانه د شوروي ځواکونو تروتلو مخکې ، زموږ قطعې د ۲۰۱ مې فرقې تر امر لاندې چې سمنګانو او بغلان ته څېرمه پرته وه ، عمليات مخې ته بيول . احمدشا مسعود چريکي قومندان هم هلته و . مسعود د ماسکو په پوځي اکاډيمۍ کې د جنرال ويرنېکوف سره يوځای زده کړه کړې وه . داسي ويل کېده کله چې ويرنېکوف خپله زيږدکليزه لمانځله ، احمدشا مسعود د نوموړي په کليزه کې ګډون وکړاو سوغاتونه يې هم ورته وروړي وو . موږ د مسعود له چريکانو سره ښې اړيکې ټينګې کړې وې . د بېلګې پټوګه په سمنګانو کې زموږ تر منځ سوله او امنيت ټينګ و . موږ به جنګي ګاډو کې ګرځېدو اود مسعود چريکان به راتلل او په ګډه به مو سره سګرټ څکول. پخه خبره دا وه چې د مسعود چريکانو موږ سره کار نه درلود او موږ يې ارام پريښي وو ، خو د کابل حکومت د عسکرو په وړاندې بيا هغوی څورونکی دريځ درلود . د حسيني ليکنه (۱) »
نوموړی ليکوال همداشان د مسعود او د شوروي د ۴۰ مې فرقې ترمنځ شوی تړون راسپړي او په دې اړه ليکي :
« په افغانستان کې د شوروي پوځي مشرتابه د مسعود سره اړيکې ټينګې کړې او له هغه سره يې د خبرواترو لپاره وړانديز وکړ ، چې په کابل کې د شوروي د سفارت لخوا پرې هوکړه شوې وه او نښاني شوي وو .
لاسوندونه :
مسعود سره د خبرو اترو په اړه د پاموړ تکي :
۱ ــ د بدخشان ، تخار ، کندز ، بغلان او د پروان او کاپيسا د ځينو برخو په ګډون د تاجيک ميشته سيمو ټاکنه او د افغانستان په چوکاټ کې د تاجيک قوم لپاره کورنی خپلواکي . او همدارنګه په دغو سيمو کې د خپلسرو حکومتونو بسيا .

افغان جرمن آنلاین شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئوليت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نويسنده ميباشد، خواهشمنديم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بداريد.

۲ ـ جمهوري رياست ، پارلمان او کابينه کې پر پلان شويو مقامونو کې ، د تاجيک قوم د استازو ځای پرځايښت
۳ ـ د مساوي حقوقو او خپلواک ګوند پتوګه د (رباني) د جمعيت اسلامي ګوند په رسميت پېژندنه
۴ ـ د جمعيت اسلامي ګوند په چوکاټ کې د تاجيکو د يوه منظم پوځي ځواک جوړښت او د افغانستان په اردو کې د هغو شاملول . د ملي ګټو (دلته د تاجيکو له ګټو څخه موخه ده : د کتاب ليکوال) د حکومتي عمومي ګټو او د کابل ـ حيرتان د لويلارې په اړوند ددې پوځي ځواک تعريف او د موخو څرګندونه
۵ ـ د تاجيک قوم خپلواکو شويو سيمه کې د سولې بسيا او عادي ژوند ته د تاجيکو د راستنېدو په اړه د شرايطو سمون
۶ ـ په شمال ختيځ کې د اقتصاد ي چارو پراختيا او په دې اړه د افغان دولت همکاري ، د طبي مرستو او د سرحدي سوداګرۍ پراختيا
ددغو لاسوندونو د راکړې ورکړې په پلاوي کې لاندې کسانو ګډون درلود : په کابل کې د شوروي سفير بوري ، ام ورانتخوف او د شوروي د دفاع د وزارت د عملياتي ګروپ قومندان جنرال وی ، آی وارنيکوف
د نوموړو امتيازونو تر لاسه کولو روسته ، مسعود له پلاوي سره پروتوکول لاسليکوي چې هغه کې د ځينو لاندينو مکلفيتونو په اجرا کولو ژمن کيږي :
۱ـ د سويلي سالنګ او کابل ـ حيرتان په لويلار د پوځي عملياتو بيخي بندول
۲ ـ نورې تنظيمي ډلې نه پريښودل چې تړون شاملو سيمو کې پر شوروي ځواکونو يرغل وکړي
۳ ـ د شوروي د ورکو شويو اتباعو په پيداکولو کې د مالوماتو راکړه ورکړه او نورې ګډې هڅې
۴ ـ تړون نه پورې خوا سيموکې د پنجشير ځواکونه حق لري چې د نورو وسلوالو ډلو او دولتي ځواکونو پر وړاندې عمليات مخې ته يوسي
۵ ـ دا پروتوکول له لاسليک څخه روسته بېله ځنډه پلی کيږي
پروتوکول د ۱۹۸۸ کال په ديسامبر کې د شوروي دفاع وزير جنرال بې ، وی ګرموف او احمدشا مسعود لاسليکوي .
په پورته تړون کې ښکاره لېدل کيږي چې مسعود د افغانستان لوی کور کې د تاجيک ميشتو لپاره کورګی جوړول غواړي او د هغه وخت شوروي په ملاتړ هڅه کوي چې د افغانستان د تجزيې د بنسټ ډبره کيږدي . مسعود هيڅکله د ټول افغانستان په کچه سوچ نه دی کړی او تل يې د هېواد د ملي او سراسري ګټو پر وړاندې د هېواد د يوې کوچنۍ سيمې او ټاکلي ايتنيک ګټې مخې ته ايښې دي .
د مسعود پلوي ډلې او رسنۍ اوس هم ، هغه يوازې د تاجيکو اتل بولي او د افغانستان په کچه او يا د افغان پتوګه د هغه پېژندګلوو د نوموړي د شخصيت لپاره عيب او ځان لپاره شرم ګڼي . دوی ښکاره په تاجيک ميډيا بريښپانه کې مسعود « فرزند دلير ايران بزرګ » بولي . دلته د مسعود په افغانيت دوی شرميږی او دا خبره له چا پټوي هم نه !
مسعود افغانستان کې تاجيک ميشتو لپاره د خيالي جنت په جوړولو کې چې بويه دی به يې ماليار وي ، په ۹۰ ومو کلونو کې ټول قومونه يوله بل سره وجنګول . « مسعود با کار وسيع اطلاعاتي (جاسوسي) به دامن زدن اختلافات ميان ازبيک ها ، ترکمن ها و همچنان سوتفاهمات ميان دوستم و رسول پهلوان متوسل شد . وبدينوسيله تلاش نمود تا دوستم را از توجه به مرکزقدرت (کابل) دور نګدارد .... مسعود باز هم بسنده نکرده سياف وحزب اورا که در دشمني با هزاره ها وتشيع ورد زبانها بود تشويق کرد تا مناطق هزاره نشين را به کمک شورای نظار اشغال کند . مسعود تسلط اتحاد اسلامي رابه مناطق هزاره نشين پذيرفت ودر جنګ وحشيانه ای که براه افتاد ، غرب کابل بصورت سيستماتيک منهدم وده ها هزار انسان بيدفاع و بيګناه به ديار عدم فرستاده شدند . از کتاب اتلاف های تنظيمی در افغانستان صفحه ۱۱۱ »
د مسعود نظارشورا او جمعيت اوس هم د نوموړي په لار او ليکه درومي او چمتو دي يوازې تاجيکو ته د حقوقو د اعادي په درواغجنې دعوې سره ، قومونه يوبل سر وجنګوي او تاجيک له ټولو ورونو قومونو سره دښمن کړي . هېواد کې د ژبې ، قوم او سمت په نوم د بېلتون تخم نور هم وپاشي . د ايران او روسيې د ګټو لپاره د هېواد ملي ګټې تر پښو لاندې کړي . او په پای کې افغانستان درې وړې او د هېواد د تاريخي دښمنانو زړه پر افغانانو يخ کړي !
که څه هم کرزي د ملت د ارادې او پريکړې په خلاف ، له مسعود څخه اتل جوړ کړ . همدارنګه اته کاله يې د نظارشورا او جمعيت د دولت په لوړو چوکيو کې ونازول او د دوی هر جګړه مار يې د ميليونو ډالرو خاوند کړ. خو د ملت او هېواد پر وړاندې د غلو او ډاکوانو دې ډلې په چلوټو او درغليو کې څه کمښت رانغی او لا دوام لري.
ترهغو چې افغانان د ملي ګټو او ارزښتونو په تله کې ، څوک دروند ونه تلي او د ملي وياړ وړ يې ونه بولي ، په درواغجنو نومونو او جعلي لقبونو څوک د افغانانو په منځ کې ځای نه شي نېولای .
مرادزی

پای

افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئوليت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نويسنده ميباشد، خواهشمنديم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بداريد.

(۱) : سید نور الحق حسینی لومړنی خبریال و چې د مسعود او شوروي تر منځ يې د سازش او پیوازی په اړه مالومات ورکړي وو . لیکوال نوموړي مالومات د ۱۹۸۶کال د نومبر د ۱۰ مي نیټې له مرکې څخه رااخیستي دي .

اخځونه :

از تصرف کابل تا سقوط مزار له کتاب څخه

اتلاف های تنظیمی در افغانستان له کتاب څخه

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de

نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.